د پوهنې وزارت

د تعلیمي نصاب د پراختیا، د ښوونکو د روزنې

د تعلیمي نصاب د پراختیا او درسي کتابونو د تالیف لوی ریاست

# اسلامي ښوونه او روزنه

## دریم ټولګی



د چاپ کال: ۱۳۹۶ هـ . ش.

درسي کتابونه د پوهنې په وزارت پورې اړه لري. په بازار کې یې پېرودل او پلورل په کلکه منعه دی. له سر غړوونکو سره به یې قانوني چلن وشي.

moe.curriculum@gmail.com



# ملي سرود

دا وطن افغانستان دی
کور د سولې کور د تورې
دا وطن د ټولو کور دی
د پښتون او هزاره وو
ورسره عرب، گوجر دي
براهوي دي، قزلباش دي
دا هیواد به تل ځلیږي
په سینه کې د آسیا به
نوم د حق مو دی رهبر

دا عزت د هر افغان دی
هر بچی یې قهرمان دی
د بلوڅو د ازبکو
د ترکمنو د تاجکو
پامیریان، نورستانیان
هم ایماق، هم پشه یان
لکه لمر پر شنه آسمان
لکه زړه وي جاویدان
وایو الله اکبر وایو الله اکبر

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

**د پوهنې وزارت**

د تعلیمي نصاب د پراختیا او د ښوونکو د روزنې معینیت

د تعلیمي نصاب د پراختیا او درسي کتابونو د تالیف لوی ریاست

# اسلامي ښوونه او روزنه

# دریم ټولګی

د چاپ کال : ۱۳۹۶ هـ . ش.

## لیکوالان:

- گل آقا شايق د تعليمي نصاب د پراختيا او درسي کتابونو د لوی رياست علمي غړی (د سرمؤلف مرستيال).
- ليلا ساير د تعليمي نصاب د پراختيا او درسي کتابونو د لوی رياست علمي غړې.
- محمد اصغر وکيلي د تعليمي نصاب د پراختيا او درسي کتابونو د لوی رياست علمي غړی.

## علمي ایډیټ:

- محمد آصف کوچی د تعلیمی نصاب د پراختيا پروژې د اسلامياتو څانگې مسؤول.

## ژبني ایډیټ:

- محمد سهراب ديدار

## دیني ایډیټ:

- دکتور شيرعلي (ظريفي) د تعلیمی نصاب د پراختيا پروژې رئيس.

## د څارنې کمېټه:

- دکتور اسدالله محقق د تعليمي نصاب د پراختيا، د ښوونکو د روزنې معين.
- دکتور شېرعلي ظريفي د تعليمي نصاب د پراختيا د پروژې رئيس.
- دکتور محمد يوسف نيازي د تعليمي نصاب د پراختيا او درسي کتابونو د تاليف لوی رياست سرپرست.

## طرح او ډیزاین:

- سيدکاظم (کاظمی)

**د چاپ د سمون چارې**: محمدکبير حقمل د پوهنې وزارت د نشراتو رئيس.

بسم الله الرحمن الرحيم

## د پوهنې د وزير پيغام

د لوی خدایﷻ ډېر شکر دی چې انسان یې په احسن تقویم پیدا او هغه ته یې د خبرو کولو توان ورکړ او د علم او فکر پر گاڼه یې سمبال کړ. ډېر درود دې وي د اسلام په گران پیغمبر حضرت محمد مصطفیﷺ چې د انسانیت ستر ښوونکی او د رحمت، لارښوونې او روښنايي پیغام راوړونکی دی.

ښوونه او روزنه په هره ټولنه کې د بدلون او پراختیا بنسټ دی. د ښوونې او روزنې اصلي موخه د انسان د بالقوه ځواکونو فعالول او د هغه د پټو استعدادونو غوړول دي.

درسي کتاب د ښوونې او روزنې په بهير کې یو مهم رکن بلل کېږي چې له نوو علمي بدلونونو او پرمختگونو سره اوږه په اوږه او د ټولنې له اړتیاوو سره سم تالیف کېږي. درسي کتابونه ښايي د منځپانگې له مخې خورا بډای وي چې وکړای شي ديني او اخلاقي زده کړې د نوو علومو له لاسته راوړنو سره یوځای د نوو میتودونو له لارې زده کوونکو ته ولېږدوي.

دغه کتاب چې اوس ستاسو په واک کې دی، د همدغو پورته ځانگړنو پر بنسټ چمتو او تالیف شوی دی. د پوهنې وزارت تل زیار باسي چې په هیواد کې تعلیمي نصاب او درسي کتابونه د اسلامي ښوونې او روزنې او د ملي هویت د ساتلو پر بنسټ جوړ او له علمي معیارونو، نوو روزنیزو میتودونو او د نړۍ له علمي پرمختگونو سره سم وي. د زده کوونکو استعدادونه په ټولو اخلاقي او علمي خواوو کې وغوړېږي او په هغوی کې د فکر کولو او نوښت توان او د پلټنې حس پیاوړی کړي. د خبرو اترو او پیرزوینې د فرهنگ دودول، د هیواد پالنې، د مینې او محبت د حس پیاوړي کول، ښښنه او پیوستون د پوهنې د وزارت نوري غوښتنې دي چې ښايي د لوست په کتابونو کې غبرگون ومومي.

درسي کتابونه د ښه او مسلکي ښوونکي له درلودو پرته نشي کولای تر پام لاندې موخې ترلاسه کړي. ښوونکی د ښوونې او روزنې مهم رکن او د زده کړې او روزنې د پروگرامونو سرته رسوونکی دی. د هیواد له ژمنو او زړه سواندو ښوونکو څخه، چې د تورتم او ناپوهۍ په وړاندې یې جگړه خپله دنده گرځولې، دوستانه هیله لرم چې د تعلیمي نصاب په دقیق او مخلصانه تطبیق کې د هیواد ماشومان، نجونې او تنکي ځوانان د پوهې، اخلاقو او معنویت لوړو څوکو ته رهنمايي کړي.

د هیواد د زده کړې د نظام برى د خلکو له جدي مرستو پرته امکان نه لري. له دې امله له ټولو قشرونو او د ملت له شریفو خلکو، په تیره بیا له کورنیو او د زده کوونکو له درنو اولیاوو څخه هیله لرم چې د معارف د موخو د لاسته راوړو په برخه کې له هیڅ ډول مرستې څخه ډډه ونکړي. دغه راز له ټولو لیکوالو، پوهانو، د ښوونې او روزنې له ماهرینو او د زده کوونکو له محترمو اولیاوو څخه هیله کیږي چې په خپلو رغنده نظرونو، وړاندیزونو او نیوکو د درسي کتابونو په لاښه والي کې د پوهنې له وزارت سره مرسته وکړي.

لازمه بولم چې له ټولو ښاغلو مولفینو او د پوهنې د وزارت له اداري او فني کارکوونکو څخه چې د دغه کتاب په چمتو کولو کې یې زیار ایستلی او له ټولو ملي او نړیوالو بنسټونو څخه چې د درسي کتابونو د چاپ او ویش په برخه کې یې مرسته کړې، مننه وکړم.

په پای کې له لوی خدایﷻ څخه غوارم چې په خپلې بې پایه مهربانۍ له موږ سره د پوهنې د سپیڅلو ارمانونو په لاسته راوړلو کې مرسته وکړي. إنه سمیع قریب مجیب.

د پوهنې وزیر

دوکتور اسدالله حنیف بلخي

# فهرست


| عنوانونه | مخ |
| --- | --- |
| مفصل ایمان | ۱ |
| د تمجید کلمه | ۳ |
| د توحید کلمه (۱) | ۵ |
| د توحید کلمه (۲) | ۷ |
| آیت الکرسي (۱) | ۹ |
| آیت الکرسي (۲) | ۱۱ |
| آیت الکرسي (۳) | ۱۳ |
| د آیت الکرسي فضیلتونه | ۱۵ |
| توحـــید | ۱۷ |
| شرک | ۱۹ |
| د شرک بېلګې | ۲۱ |
| کفر | ۲۳ |
| استنجا(۱) | ۲۵ |
| استنجا(۲) | ۲۷ |
| د اوداسه فرضونه | ۲۹ |
| د اوداسه اوبه | ۳۱ |
| د تیر شوي لوست ادامه | ۳۳ |
| د اوداسه ماتوونکي | ۳۵ |

| عنوانونه | مخ |
|---|---|
| د لمانځه وختونه | ۳۷ |
| د لمانځه فرضونه | ۳۹ |
| وتر لمونځ | ٤۳ |
| د قنوت دعا (۱) | ٤٥ |
| د قنوت دعا (۲) | ٤۷ |
| د قنوت دعا (۳) | ٤۹ |
| د قنوت دعا (٤) | ٥۱ |
| د جمعي لمونځ | ٥۳ |
| صف ترل | ٥٥ |
| د مسجد (جومات) آداب | ٥۷ |
| د اودس ماتي آداب | ٥۹ |
| د مسلمان اخلاق | ٦۱ |
| د مور او پلار حقوق | ٦۳ |
| د ښوونکي په وړاندې آداب | ٦٥ |
| د خپلوانو سره چلند | ٦۷ |
| د چاپېريال پاکوالی | ٦۸ |
| د ژوو (حيواناتو) سره چلند | ۷۰ |
| پاکوالی | ۷۲ |
| بې ځایه خبرې کول | ۷٤ |
| د مسلمان خويونه | ۷٥ |

# مفصل ایمان

مـوږ پـه الله ﷻ، پرښـتو، آسـماني کتابونـو، پیغمبرانو، د آخرت په ورځ، قضاء او قدر (ښه او بد) چې د الله ﷻ له طرفه دي ایمان لرو.

## فعالیت

**زده کوونکي دې د ایمان د ارکانو په هکله یو له بل څخه پوښتنې وکړي.**

## ارزونه

**۱ - د ایمان د ارکانو نومونه واخلئ.**

**۲ - مفصل ایمان له یاده ووایئ.**

**۳ - مونږ په قضا او قدر............. لرو.**

# د تمجید کلمه

سُبْحَانَ اللّٰهِ، وَالْحَمْدُ لِلّٰهِ، وَلا اِلٰهَ اِلاَّ اللّٰهُ، وَاللّٰهُ اَكْبَرُ، وَلَا حَوْلَ وَلَا قُوَّةَ اِلَّا بِاللّٰهِ الْعَلِيِّ الْعَظِيْمِ.

## د کلمو تکرار:

سُبْحَانَ اللّٰهِ　　وَالْحَمْدُ لِلّٰهِ

وَلا اِلٰهَ اِلاَّ اللّٰهُ　　وَاللّٰهُ اَكْبَرُ

وَلا حَوْلَ وَلا قُوَّةَ　　اِلَّا بِاللّٰهِ الْعَلِيِّ الْعَظِيْمِ

## فعالیت

زده کوونکي دې د تمجید کلمه په خپلو منځو کې تکرار کړي.

## ارزونه

۱- د تمجید کلمه له یاده ووایئ.

۲- د تمجید کلمه بشپړه کړئ: سبحان الله و الحمدلله....

# د توحید کلمه (۱)

**لاَ اِلٰهَ اِلاَّ اللّٰهُ وَحْدَهُ لاَ شَرِیکَ لَهُ، لَهُ الْمُلْکُ**

**وَ لَهُ الْحَمْدُ...**

## د کلمو تکرار:

- **لاَ اِلٰهَ اِلاَّ اللّٰهُ**
- **وَحْدَهُ لاَ شَرِیکَ لَهُ**
- **لَهُ الْمُلْکُ**
- **وَلَهُ الْحَمْدُ**

## فعالیت

زده کوونکي دې د توحید کلمه یو له بل څخه وپوښتي.

## ارزونه

۱ - د توحید کلمه له یاده ووایئ.

۲ - بشپړه یې کړئ:

لااله الا الله.......................... وله الحمد........

# د توحید کلمه (۲)

....يُحْيِيْ وَ يُمِيْتُ وَ هُوَ حَيٌّ لاَ يَمُوْتُ بِيَدِهِ الْخَيْرُ
وَ هُوَ عَلٰى كُلِّ شَيْءٍ قَدِير.

## د کلمو تکرار:

- يُحْيِيْ
- وَيُمِيْتُ
- بِيَدِهِ الْخَيْرُ

## فعالیت

زده کوونکي دې په ډلييزه توګه د توحيد کلمه بشپړه ولولي.

## ارزونه

۱ - د توحيد کلمه په لوړ غږ ولولئ.

۲ - د توحيد کلمه له ياده ووايئ.

۳ - بشپړه يې کړئ:

يُحْيِىْ................................... بِيَدِهِ الْخَيْرُ.....................................

# آیت الکرسي (۱)

﴿اللّٰهُ لاَ إِلٰــهَ إِلاَّ هُوَ الْحَيُّ الْقَيُّوْمُ لاَ تَأْخُذُهُ سِنَةٌ
وَّلاَ نَوْمٌ لَهُ مَا فِى السَّمَاوَاتِ وَمَا فِى الأَرْضِ مَن
ذَا الَّذِىْ يَشْفَعُ عِنْدَهُ إِلاَّ بِإِذْنِهِ...﴾

## فعالیت

زده کوونکي دې د آیت الکرسي لومړۍ برخه په خپلو منځو کې تکرار کړي او یو له بل څخه دې پوښتنې وکړي.

## ارزونه

۱ - د آیت الکرسي لومړۍ برخه ولولئ.

۲ - د آیت الکرسي لومړۍ برخه له یاده ووایئ.

# آیت الکرسي (۲)

﴿...يَعْلَمُ مَا بَيْنَ اَيْدِيْهِمْ وَمَا خَلْفَهُمْ وَلاَ يُحِيْطُوْنَ
بِشَيْءٍ مِّنْ عِلْمِهِ اِلاَّ بِمَا شَآءَ وَسِعَ كُرْسِيُّهُ
السَّمَاوَاتِ وَالاَرْضَ وَلاَ يَؤُودُهُ حِفْظُهُمَا وَهُوَ
الْعَلِيُّ الْعَظِيْمُ﴾ (البقره/۲۵۵)

## فعالیت

زده کوونکي دې د آیت الکرسي دویمه برخه یو له بل سره تکرار کړي او یو له بل څخه دې پوښتنې وکړي.

## ارزونه

۱- د آیت الکرسي دویمه برخه ولولئ.

۲- د آیت الکرسي دویمه برخه له یاده ووایئ.

# آیت الکرسي (۳)

﴿اللّهُ لاَ إِلَـهَ إِلاَّ هُوَ الْحَيُّ الْقَيُّوْمُ لاَ تَأْخُذُهُ سِنَةٌ
وَّلاَ نَوْمٌ لَهُ مَا فِى السَّمَاوَاتِ وَمَا فِى الاَرْضِ مَنْ
ذَا الَّذِىْ يَشْفَعُ عِنْدَهُ إِلاَّ بِإِذْنِهِ يَعْلَمُ مَا بَيْنَ أَيْدِيْهِمْ
وَمَا خَلْفَهُمْ وَلاَ يُحِيْطُونَ بِشَىْءٍ مِّنْ عِلْمِهِ اِلاَّ بِمَا
شَآءَ وَسِعَ كُرْسِيُّهُ السَّمَاوَاتِ وَالأَرْضَ وَلاَ يَؤُوْدُهُ
حِفْظُهُمَا وَهُوَ الْعَلِيُّ الْعَظِيْمُ﴾ (بقره / ۲۵۵)

## فعالیت

زده کوونکي باید آیت الکرسي په لوړ غږ ولولي او همدارنګه یو له بل څخه دې پوښتنې وکړي.

## ارزونه

۱- آیت الکرسي ولولئ.

بشپړه یې کړئ:

۲- اللّٰهُ لاَ إِلٰـهَ إِلاَّ هُوَ الْحَيُّ .................. وَلاَ نَوْمٌ ......

۳- وَسِعَ كُرْسِيُّهُ السَّمَاوَاتِ وَالأَرْضَ ..........................

# د آیت الکرسي فضیلتونه

- د آیت الکرسي ویل ډیر ثواب لري.

پیغمبر ﷺ فرمایلي دي:

«کله چې ویده کیدلې آیت الکرسي ووایه په دې توګه د الله جل جلاله له طرفه درته یو ساتونکی ټاکل کیږي او تر سهاره هیڅ شیطان درته نژدې کېدای نشي». (۱)

- مونږ له هر فرض لمانځه وروسته آیت الکرسي وایو.

---

(۱)- صحیح البخاری

## فعالیت

**زده کوونکي دې د ښوونکي په مرسته د آیت الکرسي د فضیلتونو په اړه خبرې وکړي.**

## ارزونه

**۱- پیغمبر ﷺ د آیت الکرسي په اړه څه فرمایلي دي؟**

**۲- د آیت الکرسي.................. ثواب لري.**

**۳- موږ له هر فرض لمانځه وروسته..................... وایو.**

# توحید

د الله ﷻ په وحدانیت باور لرلو ته توحید وايي.

الله ﷻ یو دی.

شریک او ساری نلري.

له هر عیبه پاک دی.

موږ یوازې د الله ﷻ عبادت کوو.

الله ﷻ د ټولو مخلوقاتو پیدا کوونکی دی.

یوازې الله ﷻ په غیبو پوهیږي.

## فعالیت

زده کوونکي دې د ښوونکي په مرسته الله جل جلاله ته د عبادت په اړه په خپلو منځونو کې خبرې وکړي.

## ارزونه

۱- توحید څه ته ویل کېږي؟

۲- ټول موجودات چا پیدا کړي دي؟

# شرک

له الله ﷻ سره د بل چا شریک او سیال ګڼلو ته شرک وايي.

شرک لویه ګناه ده.

له الله ﷻ څخه پرته بل چا ته عبادت کول شرک دی.

الله ﷻ مشرک نه بښي.

مشرک جنت ته نشي داخلېدای.

## فعالیت

زده کوونکي دې د لوست د متن څخه په ګډې اخیستلو  په خپلو منځو کې پوښتنې او ځوابونه وکړي.

## ارزونه

۱ - شرک څه ته ویل کیږي؟

۲– آیا مشرک جنت ته داخلیدای شي؟

# د شرک بېلګې

د شرک بېلګې عبارت دي:

- له الله ﷻ څخه پرته بل څه ته سجده کول.
- له الله ﷻ څخه پرته د بل څه عبادت کول.
- د بتانو، اور او نورو شیانو تعظیم او درناوی.
- د الله ﷻ په صفاتو کې د مخلوق شریکول.

## فعالیت

زده کوونکي دې د شرک د بیلګو په اړه خبرې وکړي.

## ارزونه

۱- له الله جل جلاله څخه پرته بل څه ته سجده کول څه ګڼل کیږي؟

۲- د شرک بېګې بیان کړئ.

# کفر

کفر د انکار کولو په معنا دی.

د کفر بېلګې:

- د الله جل جلاله او د هغـه د رسـول صلی الله علیه وسلم څخه انکار کول.
- د اسلام له دین څخه انکار کول.
- د اسلام په دین ملنډې وهل.
- خپل ځان ته کافر ویل.

مونـږ بایـد د کفري الفاظو لـه ویلو څخه ځان وساتو.

## فعالیت

**زده کوونکي دې د لوست له متن څخه په ګټه اخیستلو د کفر په اړه په خپل منځ کې خبرې وکړي.**

## ارزونه

**۱- کفر د څه په معنا دی؟**

**۲- مونږ باید..................... له ویلو ځان وساتو.**

**۳- د کفر د بېلګو نومونه ولیکئ.**

# استنجاء (۱)



**استنجاء:**

**د شرم ځای پاکولو ته استنجاء ویل کېږي.**

**کولای شو په لاندنیو شیانو استنجاء وکړو:**

- **اوبه**
- **لوټه**

- تیږه

- تشناب کاغذ

موږ باید په چپ لاس استنجاء وکړو.

کله چې نجاست زیات وي په اوبو سره استنجاء واجبه ده.

## فعالیت

زده کوونکي باید د هغو شیانو په هکله خبرې وکړي چې استنجاء پرې کیږي.

## ارزونه

۱- استنجاء تعریف کړئ؟

۲- په کومو څېزونو سره استنجاء کول روا دي؟

# استنجاء (۲)

**هغه څه چې استنجاء پرې روا نه ده:**

**هډوکي.**

**ډکې.**

**خوشايي.**

**او همدارنگه په ښي لاس سره استنجاء روا نه ده.**

## فعالیت

زده کوونکي دې د هغو څیزونو په اړه چې استنجاء پرې روا نده یو له بل څخه پوښتنې وکړي.

## ارزونه

۱ - استنجاء په دغو څیزونو نده روا:

۱-................. ۲-................. ۳-................. ۴-.............

۲ - د هغو څیزونو نومونه واخلئ چې استنجاء پرې روا نده.

## پنځلسم لوست

# د اوداسه فرضونه

## د اوداسه فرضونه څلور دي



۱ - د ټول مخ مينځل.

۲ - د لاسونو مينځل له څنګلو سره.

۳ - څلورمه برخه د سر مسح کول.

۴ - د پښو مينځل له ښنګريو سره.

## فعالیت

زده کوونکي دې د ښوونځي په انګړ کې د ښوونکي تر لارښوونې لاندې عملاً اودس وکړي.

## ارزونه

۱- د اوداسه فرضونه څو دي؟

۲- د اوداسه د فرضونو نومونه واخلئ؟

## شپاړسم لوست

# د اوداسه اوبه

**په لاندنیو اوبو سره اودس کول روا دي:**







**۱ - د باران اوبه.**

**۲ - د چینو او ویالو اوبه.**

**۳ - د کوهیانو اوبه.**

**۴ - د رود اوبه.**

۵- د واورې، ږلۍ او یخ اوبه.

۶- د غټو ډنډونو او حوضونو اوبه.

پــه موږ لازمــه ده تر څــو په پاکــو اوبو اودس وکړو.

### فعالیت

زده کوونکي دې د هغو اوبو په ډولونو چې اودس کول پرې روا دي خبرې وکړي.

### ارزونه

۱- په کومو اوبو اودس کول روا دی؟

۲- بشپړ يې کړئ:

پر موږ لازم دي.................. .................. وکړو.

# د تیر لوست ادامه

په لاندې اوبو پاکوالی روا ندی:

۱ - هغه مایعات چې اوبه نه ورته ویل کیږي.

لکه د میوې اوبه، ښوروا، چای او داسې نور.

۲ - هغه اوبه چې په هغې کې ناپاک شی لویدلی

وي.

مونږ باید په ناپاکو اوبو سره له اوداسه کولو

ځان وژغورو.

## فعالیت

زده کوونکي دې د پاکو او ناپاکو اوبو په اړه په خپلو منځو کې خبرې وکړي.

## ارزونه

۱ - په کومو اوبو اودس کول روا دي؟

۲ - په کومو اوبو اودس کول روا ندي؟

۳ - مونږ باید.................................. وکړو.

# د اوداسه ماتوونکي

د اوداسه ماتوونکي په لاندې ډول دي:

۱ - غائطه مواد، متيازې او د بادو وتل له مقعد ځخه.

۲ - د بدن ځخه د وينې او زوو وتل او جاري کېدل.

۳ - په ډکه خوله سره قی کول.

۴ - خوب.

۵ - بيهوشي.

۶ - ليونتوب.

# ۷ - په لمانځه کې په لوړ غږ خندل.

**فعالیت**

زده کوونکي دې په وړو ډلو وویشل شي او د اوداسه ماتوونکي دې یو له بل څخه وپوښتي.

**ارزونه**

۱ - د اوداسه ماتوونکي څو دي؟

۲ - د اوداسه ماتوونکو څيزونو نومونه واخلئ.

# د لمانځه وختونه

۱- د سهار د لمانځه وخت:

د صبح صادق (رښتيني سبا) له راختلو څخه پيل د لمر تر راختلو پورې.

۲- د ماسپښين د لمانځه وخت:

د لمر له زوال څخه د هر شي د سيوري تر دوه برابره کېدلو پورې.

۳- د ماز ديگر د لمانځه وخت:


د ماسپښين د لمانځه له پای څخه د لمر تر لويدلو پورې.

۴- د ماښام د لمانځه وخت:

د لمر له لويدلو څخه د شفق تر ورکېدلو پورې.

## ۵ - د ماخوستن د لمانځه وخت:

## د ماښام د لمانځه له پای څخه د شپې تر آخره.




### فعاليت

زده کوونکي دې د لمانځه د وختونو په هکله يو له بل څخه پوښتنې وکړي.

### ارزونه

۱ - د لمانځه وختونه څوک بيانولی شي؟

۲ - د ماسپښين د لمانځه وخت ووايئ.

# د لمانځه فرضونه

## په لمانځه کې اووه څیزونه فرض دي:

## ۱- تحریمه تکبیر

## ۲- قیام (دریدل)




## ۳- قرائت (ویل )





## ۴- رکوع



## ۵ - سجده





## ۶ - وروستۍ قعده (ناسته).





## ۷ - د لمانځه څخه وتل (سلام ګرځول).





## فعالیت

ښوونکی دې په زده کوونکو په عملي بڼه لمونځ وکړي.

## ارزونه

۱- د لمانځه فرضونه څو دي؟

۲- د لمانځه د فرضونو نومونه واخلئ.

# وتر لمونځ

د وتر لمونځ واجب دی.

د وتر لمونځ دری رکعته دی.

لمونځ کوونکی:

- په دریم رکعت کې د سورت له ویلو وروسته د تکبیر په ویلو سره دواړه لاسونه د تحریمه تکبیر په څیر پورته کوي.
- وروسته له تکبیر ویلو ښی لاس په چپ لاس ږدي او د قنوت دعا وایي.

## فعالیت

زده کوونکي دې د وتر لمونځ په ټولګي کې په عملي بڼه اداء کړي.

## ارزونه

۱- د وتر لمونځ څو رکعته دی؟

۲- د وتر لمونځ ............. دی.

۳- د قنوت دعا د وترو په کوم رکعت کې ویل کېږي؟

# د قنوت دعا (۱)

اللّٰهُمَّ إِنَّا نَسْتَعِيْنُکَ وَنَسْتَغْفِرُکَ وَنُؤْمِنُ بِکَ وَنَتَوَکَّلُ عَلَيْکَ وَنُثْنِيْ عَلَيْکَ الْخَيْرَ ...

## فعالیت

زده کوونکي دې د قنوت د دعا لومړۍ برخه په ډلییزه توکه په لوړ غږ ووايي.

## ارزونه

۱ - د قنوت دعا لومړۍ برخه په یاد ووایئ.

۲ - اللّٰهم انا نستعیْنک............... و نؤمن بک..................................

# د قنوت دعا (۲)

وَنَشْـکُرُکَ وَلا نَکْفُـرُکَ ونَخْلَـعُ وَنَتْـرُکُ مَـنْ

یَّفْجُرُکَ...

## فعالیت

زده کوونکي دې د قنوت دعا دویمه برخه په لوړ غږ ووایي او همدارنګه له یو بل څخه دې پوښتنې وکړي.

## ارزونه

د قنوت دعا دویمه برخه له یاده ووایئ.

# د قنوت دعا (۳)

**اللّٰهُـمَّ اِيَّاکَ نَعْبُـدُ وَلَکَ نُصَلِّي وَنَسْـجُدُ وَاِلَيْکَ نَسْعَی...**

## فعالیت

زده کوونکي دې د قنوت دعا دریمه برخه په ډلییزه توګه په لوړ غږ ووايي.

## ارزونه

۱- د قنوت دعا دریمه برخه له یاده ووایئ.

۲- بشپړ یې کړئ:

- اللّٰهم ایاک نعبد................................ نسعی.

# د قنوت دعا (۴)

وَنَحْفِدُ وَنَرْجُوا رَحْمَتَکَ وَنَخْشَى عَذَابَکَ اِنَّ عَذَابَکَ بِالْکُفَّارِ مُلْحِقٌ.

## فعالیت

زده کوونکي دې د قنوت دعا وروستۍ برخه په لوړ غږ ووايي.

## ارزونه

۱ - د قنوت دعا آخره برخه ولولئ.

۲ - قنوت دعا له یاده څخه ووایئ.

# د جماعت لمونځ

پیغمبر ﷺ فرمایلي دي:

«په جماعت ســره لمونځ کول له ځان ته لمانځه څخه اووه ویشت درجې فضیلت لري»(۱)

ـ مونږ په جماعت سره لمونځ اداء کوو.

ـ د ماسپښین او مازدیگر لمونځونه په جماعت سره په خفیه (ورو) ویل کیږي.

ـ د ماښـام، ماخوسـتن او سـهار لمونځونه په جماعت سره په جهر (لوړغږ) ویل کیږي.

مونږ په جهـري لمونځونو کې د امام قرائت ته غوږ نیسو.

---

۱- البخاری



## فعالیت

زده کوونکي دې د جماعت د لمانځه په اړه خبرې وکړي.

## ارزونه

۱ - پیغمبر ﷺ د جماعت د لمانځه په اړه څه فرمایلي دي؟

۲ - کوم لمونځونه په جماعت سره په خفیه (ورو) ویل کېږي؟

۳ - کوم لمونځونه په جماعت سره په جهر (لوړغږ) ویل کېږي؟

# صف تړل

حضرت محمد ﷺ فرمایلي دي:

«صفونه مو برابر کړئ ځکه د صفونو برابرول د لمانځه برخه ده»[1]

- یو د بل څنګ ته اوږه په اوږه دریدل سنت دي.

- د صفونو نه برابرول د حسد او نفاق لامل ګرځي.

---

۱- البخاری



## فعالیت

زده کوونکي دې په ټولګي کې د صف درېدل تمثیل کړي.

## ارزونه

۱ - پیغمبر ﷺ د لمانځه د صف په اړه څه فرمایلي دي؟

۲ - د صف نه برابرول د څه سبب ګرځي؟

۳ - یو د بل څنګ ............................... سنت دي.

# د مسجد آداب

جومات ته له ننوتلو څخه مخکې اودس کوو.

په ښی پښه جومات ته ننوځو او دا دعا وايو:

﴿اَللّٰهُمَّ افْتَحْ لِیْ اَبْوَابَ رَحْمَتِکَ﴾

کله چې له جومات څخه راوځو، نو چپه پښه لومړی کوو او دا دعا وايو: ﴿اَللّٰهُمَّ اِنِّی اَسْئَلُکَ مِنْ فَضْلِکَ﴾.

د چا د لمانځه په مخ کې نه تيريږو.

په جومات کې بې ځايه او په لوړ غږ خبرې کول ښه ندي.



## فعالیت

زده کوونکي دې د جومات د آدابو په اړه خبرې وکړي.

## ارزونه

۱- جومات ته له ننوتلو مخکې..............

۲- د جومات له آدابو څخه څو بېلګې ووایئ.

نهه ویشتم لوست

# د اودس ماتي آداب

موږ باید د اودس ماتي په وخت کې لاندې

آداب مراعات کړو:

کله چې بیت الخلاء ته ځو باید دا دعا ووایو

«اللّٰهُمَّ اِنِّیْ اَعُوْذُ بِکَ مِنَ الْخُبُثِ وَالْخَبَائِثِ»

وروسته له وتلو نه دا دعا وایو: «غُفْرَانَکَ»

د ننوتلو په وخت کې کیڼه پښه او د وتلو په وخت

کې ښۍ پښه مخکې کوو.

د اودس ماتي په وخت کې مخ او شا د قبلې

لوري ته نه کوو.

پە اوبو کې متیازې نە کوو.

پە کیڼ لاس سره د نجاست ځای پاکوو.

## فعالیت

زده کوونکي دې د اودس ماتي آدابو پە اړه خبرې وکړي.

## ارزونه

١- بیت الخلاء تە د ننوتلو دعا ووایئ.

٢- د بیت الخلاء څخە د راوتلو دعا ووایئ.

٣- د نجاست ځای پە کوم لاس پاکوو؟

# د مسلمان اخلاق

پیغمبر ﷺ فرمایلي دي «زه د ښو اخلاقو د بشپړولو لپاره رالیږل شوی یم».(۱)

د مسلمان د اخلاقو څخه دا دي:

- هیڅوک سپک نه ګڼي.
- یو او بل ته ښنه او تېریدنه کوي.
- د خپل مور او پلار سره نیکي کوي او د هغوی پر وړاندې په نرمۍ سره خبرې کوي او اطاعت یې کوي.
- له بدګمانۍ او جاسوسۍ څخه ځان ساتي.

۱- سنن الکبرا للبیهقی

- د بدو لفظونو له ویلو څخه ځان ژغوري.

- دروغ نه وايي، غیبت نه کوي او له چا سره دوکه نه کوي.

- او چاته کنځلې هم نه کوي.

## فعالیت

زده کوونکي دې د مسلمان د اخلاقو په اړه یو له بل سره خبرې وکړي.

## ارزونه

۱- پیغمبر ﷺ د اخلاقو په اړه څه فرمایلي دي؟

۲- د مسلمان د اخلاقو څو بېلګې ووایئ؟

# د مور او پلار حقوق

**پیغمبر ﷺ فرمايلي دي: «په رښـتيا سره الله ﷻ تاسو ته د خپلو ميندو او پلرونو په هکله د نيکۍ کولو امر کوي»[1].**

- **مونږ د خپل مور او پلار سره مينه کوو.**
- **له مور او پلار سره تل مرسته کوو.**
- **د خير په کارونو کې د هغوی پيروي کوو.**
- **د خپل مور او پلار سره نيکي کوو.**
- **د هغوی په وړاندې په ادب او درناوي**

---

۱- د احمد او ابن ماجه څخه روايت

# چلند کوو.

## - د هغوی غږ ته ژر ځواب وایو.

فعالیت

زده کوونکي دې د مور او پلار د حقونو په اړه په بیلابیلو ډلو کې خبرې وکړي.

ارزونه

۱- پیغمبر ﷺ د مور او پلار په اړه څه فرمایلي دي؟

۲- د مور او پلار د حقونو نومونه واخلئ.

بشپړ یې کړئ:

............ په وړاندې............................ چلند کوو.

دوه دیرشم لوست

# د ښوونکي په وړاندې ادب

رســول الله ﷺ فرمایلي دي «په تحقیق سره زه ښوونکی رالیږل شوی یم».[1]

- ښوونکی زموږ د مور او پلار په څیر دی.
- کله چې لوست پیل کوي نو ښه غوږ ورته نیسو.
- د هغه د خبرو په مینځ کې نه غږیږو.
- د هغــه پــه موجودیــت کې خبــرې، لوبې او شوخي نه کوو.
- کله چې په لوســت کې کومه ســتونزه ولرو نو د هغه څخه پوښتنه کوو.

۱- د ابن ماجه روایت

د هغه له اجازې څخه پرته له ټولګي څخه بهر نه وځو.

- د ښوونکي نصيحت منو.



## فعالیت

د ښوونکي سره د ښه چلند په اړه خبرې وکړئ.

## ارزونه

۱- د ښوونکي سره بايد څنګه چلند وشي؟

۲- پيغمبر ﷺ د ښوونکي په اړه څه فرمايلي دي؟

# د خپلوانو سره ښه چلند

رسول الله ﷺ فرمايي: «هر څوک چې غواړي روزي يې زياته او عمر يې اوږد شي نو بايد صله رحمي ولري». (۱)

- مونږ له خپلوانو سره مينه لرو.
- له خپلوانو سره سم چلند کوو.
- له هغوی سره اړيکې نه پرې کوو.
- له هغوی سره په کارونو کې مرسته کوو.
- هغوی ته نه ضرر رسوو او نه تکليف ورکوو.

## فعاليت

زده کوونکي دې د خپلوانو سره د ښه چلند په اړه خبرې وکړي.

## ارزونه

۱- له خپلوانو سره بايد څرنګه چلند وکړو؟

۲- پيغمبر ﷺ د خپلوانو سره د چلند په اړه څه فرمايلي دي؟

---

۱- صحيح البخاری.

# د چاپېریال پاکوالی

پیغمبر ﷺ فرمایلي دي:

«خپل چاپېریال پاک وساتئ»[1]

مونږ باید خپل چاپېریال پاک وساتو.

- د کور او ښوونځي په شاوخوا کې ونې کښېنوو او ساتنه یې کوو.

- ګلونو او چمنونو ته اوبه ورکوو.

- خځلې په ځانګړیو ځایونو کې اچوو.

- د میوې پوستکي او خوراکي څیزونه په لارو

---

۱- سنن الکبرا للبیهقی – سنن ترمذی

کې نه اچوو.

- د چاپېریال په شین والي او تازه والي کې کوښښ کوو.



## فعالیت

زده کوونکي دې د ژوند د چاپېریال د پاک ساتلو په اړه خبرې وکړي.

## ارزونه

د خپل ژوندانه د چاپېریال د پاکوالي په اړه باید څه وکړو؟

# د ژوو (څارویو) سره چلند

«پیغمبر ﷺ د ژوو له جنګولو او هغوی ته له ضرر رسولو څخه منع کړې ده». [1]

مونږ د حیواناتو پر وړاندې له مهربانۍ څخه کار اخلو.

- ژوو ته واښه او اوبه ورکوو.
- هغوی نه وهو او نه پرې ظلم کوو.
- د ضرر رسوونکې حشرې لکه: مار او لړم او داسې نورو وژل روا دي.

---

۱- سنن ابی داود

## فعالیت

زده کوونکي دې د ژوو سره د چلند په اړه خبرې وکړي.

## ارزونه

۱- پیغمبر ﷺ د ژوو د جنګولو په اړه څه فرمايلي دي؟

۲- د حیواناتو سره د ښه چلند په اړه څو مثالونه ووايئ.

# پاکوالی

پیغمبر ﷺ فرمایلي دي: «د اسلام دین د پاکوالي پر بنسټ ولاړ دی».[1]

- موږ هر سهار خپل غاښونه په مسواک یا بورس پاکوو.

موږ د ډوډی له خوړلو مخکې او وروسته خپل لاسونه مینځو.

- په ناپاکو لاسونو ډوډی نه خورو.

خپل بدن ښه مینځو او پاک کالي اغوندو.

له تشناب وتلو څخه وروسته خپل لاسونه په

---

۱- صحیح البخاری

صابون او پاکو اوبو مینځو.

پاکوالی له ناروغیو څخه مخنیوی کوي.





## فعالیت

زده کوونکي دې د پاکوالي په اړه یو له بل سره خبرې وکړي.

## ارزونه

۱ - پیغمبر ﷺ د پاکوالي په اړه څه فرمایلي دي؟

۲ - پاکوالی له.................................... کوي.

۳ - په............................ لاسونو ډوډی نه خورو.

اووه دیرشم لوست

# بې ځایه خبرې کول

پیغمبر ﷺ فرمایلي دي «څوک چې په الله ﷻ او د آخرت په ورځ ایمان لري نو باید نیکې خبرې وکړي او یا دې چُپ واوسي»». [۱]

- له هغو خبرو څخه چې زموږ له پاره ګټه نلري ځان ساتو.
- له اړتیا پرته زیاتې خبرې نکوو.
- په فکر او غور سره خبرې کوو.
- له بیکاره خبرو څخه ځان ژغورو.

**فعالیت** زده کوونکي دې د بې ځایه خبرو په اړه خبرې وکړي.

**ارزونه** پیغمبر ﷺ د بې ځایه خبرو کولو په اړه څه فرمایلي دي؟

---

۱- صحیح البخاری

اته دیرشم لوست

# د مسلمان خویونه

**پیغمبر ﷺ فرمایلي دي: «مسلمان هغه څوک دی چې بل مسلمان د هغه د لاس او ژبې له ضرر څخه په امن وي».[1]**

**د مسلمان ځینې خویونه دادي:**

- **مسلمان د ټولو مخلوقاتو سره ښه چلند کوي.**
- **په خپله وعده وفا کوي.**
- **تل رښتیا وایي او له دروغو ډډه کوي.**
- **صبر کوونکی او شکر ایستونکی وي.**
- **خلکو ته په ښو کارونو امر او له بدو کارونو څخه منع کوي.**
- **خپله غوسه زغمي او د خلکو تیروتنې بښي.**

## فعالیت

زده کوونکي دې د مسلمان د خویونو په اړه خبرې وکړي.

## ارزونه

۱- د مسلمان د څو خویونو نومونه واخلئ.

۲- پیغمبر ﷺ د مسلمان په هکله څه فرمایلي دي؟

---

۱- صحیح البخاری